راته ووايه، كه فرضي لمونځونه وكړم، د رمضان روژه ونيسم، حلال حلال وګڼم او حرام حرام

د ابی عبدالله، جابر بن عبدالله الأنصاري رضي الله عنهما څخه روايت دی چې: يو سړي له رسول الله ﷺ څخه وپوښتل او ويې ويل: راته ووايه، كه فرضي لمونځونه وكړم، د رمضان روژه ونيسم، حلال حلال وګڼم او حرام حرام، او له دې نه زيات نور هيڅ ونه كړم، آيا جنت ته به داخل شم؟ هغه وفرمايل: «هو».

[صحيح دی] [مسلم روايت كړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي كه چېرته يو څوک پنځه فرض لمونځونه اداء كړي او هيڅ نفل ورسره ونه كړي او د رمضان روژه ونيسي او ثوابي روژه ورسره ونه نيسي او د حلالو په روا والي ايمان ولري او تر سره يې كړي، او د حرامو په ناروا والي ايمان ولري او ډډه ترې وكړي، هغه به جنت ته داخل شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66525